


ابادي اوونیزه
هفته نامه آبادي

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼه: ۴۷ | مسلسل نمبر: ۱۳۷ | چهارشنبه، رمضان المبارک ۱۵مه، ۱۴۴۷هـ. ق کال


## د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه



۲ صفحه

## په ګمرکونو کې د وارداتي تجارتي شرکتونو د ثابتې مالیې د ورکړې طرحه د تایید وړ وبلل شوه




۳مه صفحه

## د افغانستان د رېل پټلۍ پروژې؛ له سیمه‌ییز اتصاله تر اقتصادي بدلون پورې



۴مه صفحه



# سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمریز کال د کب میاشتې په پنځمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. په دې غونډه کې د نورو موضوعاتو ترڅنګ کابل ته د پنجشیر سیند د اوبو د انتقال په اړه د اوبو او انرژۍ وزارت پر وړاندې شوي راپور تفصیلي بحث ترسره او راپور تایید شو. د راپور پر اساس مالیې وزارت ته هدایت وشو، چې له پنجشیر سیند څخه کابل ته د اوبو د انتقال پروژې د سروې او ډیزاین لپاره د اوبو او انرژۍ وزارت ته بودیجه ځانګړې او همداراز دې له شاه و عروس بند څخه د کابل ښار شمالي برخو ته د اوبو رسونې په موخه د اوبو رسونې امارتي شرکت ته ځانګړې شوې بودیجه انتقال کړي، څو یاد ریاست یې د سروې او ډیزاین عملي چارې پیل کړي. پر دې سربېره د اوبو رسونې امارتي شرکت ته هم هدایت وشو چې د (ام ډي پي) اوبو رسونې پروژې د پاتې چارو د بشپړولو لپاره خپل تطبیقي پلان مالیې وزارت ته وسپاري او مالیې وزارت دې د تطبیقي پلان مطابق بودیجه ورته ځانګړې کړي. د دې ترڅنګ د امارتي شرکتونو لوی ریاست ته هم دنده وسپارل شوه، څو په کابل ښار کې د اوبو رسونې عمومي پروژې د سروې او ډیزاین لپاره د اوبو رسونې امارتي شرکت ته بودیجه ځانګړې کړي. اسلامي امارت واک ته له رسېدو سره سم په هېواد کې د څو کلنې وچکالۍ له امله د رامنځته شوو ستونزو اساسي حل ته جدي توجه کوي، چې په دې برخه کې یې د کابل ښار د څښاک پاکو اوبو د کمښت ستونزې پر حل اساسي تمرکز کړی دی. کابل د افغانستان له هغو ګڼ مېشتو ښارونو څخه دی، چې په دې وروستیو کې یې تر ځمکې د لاندې اوبو ذخیرې په غیر معیاري ډول د اوبو را ایستلو له امله له جدي کمښت او ګواښ سره مخ دي. اسلامي امارت غواړي چې دا ستونزې په اساسي ډول د پنجشیر سیند څخه د اوبو د انتقال پر مټ حل کړي، چې له یوه لوري به تر ځمکې د لاندې اوبو سرچینې بېرته تغذیه شي او په ورته وخت کې به ښاریانو ته د څښاک پاکې صحي اوبه هم برابرې شي. اسلامي امارت پر دې سربېره د کابل ښار د غیر پلاني ابادۍ د مخنیوي او د ماسټر پلان مطابق په نوي کابل ښار کې د ښاریانو د ځای پرځای کېدو پروژې ته هم ځانګړې پاملرنه کړې ده. څه موده وړاندې د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال له لوري د نوي کابل ښار اړوند د کابل – بګرام عمومي سړک د عملي چارو د پیل پرانیسته وشوه. د دې ترڅنګ د کابل ښار د منظمې ابادۍ په موخه په سلګونو کیلومتره نوي سړکونه ایجاد شوي، د ماسټر پلان مطابق ښاریانو ته تجارتي، استوګنیزې او شنې ساحې ورپېژندل شوې دي او د ټولو غیر معیاري او غیر پلاني ابادیو په کلکه مخنیوی شوی دی. دا ټولې هغه هڅې او اساسي پروژې دي، چې پر مټ به یې کابل ښار له پلان سره سمه پراختیا پیدا کړي او ښاریانو ته ورپېښې ستونزې به یې په اساسي ډول حل شي.

# د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه

د ریاستالوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمریز کال د کب میاشــتې په پنځمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شــوه. دې غونډې ته د مالیې وزارت د نویو عوایدي فرصتونو راپور وړاندې او تایید شو. د راپور له مخې، مالیې وزارت په مختلفو سکتورونو کې د عوایدو د زیاتوالي نوي فرصتونه په ګوته کړي، چې د هر فرصت لپاره د طرحو تر تاییدۍ او منظورۍ وروسته به په اوږدمهال کې د اسلامي امارت بودیجې شــاوخوا ۶۰ میلیارده افغانـــۍ زیات عواید ولري. د اقتصادي کمېسیون په دې نوبتي غونډه کې د معیار او کیفیت اداري له لوري د داخلي معیارونو لپاره جوړې شوې ۱۲ مسودې او د ازمایښت ۱۱ طریقې هم تایید شوې. دغه مسودې د ســاختماني توکو، برېښـــنایي او طبي وسایلو او ســامان آلاتو، نساجي، پلاســتیک، لبنیاتو او همدارنګه د ازمایښــت طریقې بیا د خوراکي او کرنیزو محصولاتو اړوند دي. دې غونـډې تـــه د اوبو او انــرژۍ وزارت له لوري له پنجشیر څخه کابل ته د اوبو د انتقال د پایپ لین پروژې په اړه هم راپور وړاندې او د اقتصادي کمېسیون له لوري تایید شو. د راپور له مخې به مالیې وزارت د یادې پروژې د سروې او ډیزاین لپاره د اوبو او انــرژۍ وزارت ته بودیجه ځانګړې کړي. همداراز مالیې وزارت ته هدایت وشـــو، څو له شاه و عروس بند څخه د کابل ښار شمالي برخو ته د اوبو رسونې په موخه د اوبو رسونې امارتي شرکت ته ځانګړې شوې بودیجه انتقال او یاد ریاست یې د سروې او ډیزاین عملي چارې پیل کړي. همدارنګه دې د اوبو رسونې امارتي شرکت د (ام دي پي) اوبو رسونې پروژې د پاتې چارو د بشپړولو په موخه خپل تطبیقي پلان مالیې وزارت ته وسپاري او مالیې وزارت دې د تطبیقي پلان مطابق بودیجه ورته ځانګړې کړي. د امارتي شرکتونو لوی ریاســـت ته هم هدایت وشو، څو په کابل ښار کې د اوبو رســـونې پروژې د سروې او ډیزایـــن لپاره د اوبو رسونې امارتي شرکت ته بودیجه ځانګړې کړي. د غونډې په پای کې د یوشـــمېر تعقیبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې شول، چې په اړه یې اړوندو ادارو ته لازم هدایت وشول.



# د سرپل ولایت په مرکز کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمریز کال د کب میاشــتې په شپږمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شــوه. دې غونډې ته د سرپل ولایت د مرکز اړوند په لومړۍ ناحیه کې د ښاروالۍ پر ځمکه د شرعي عقد (اســتصناع) پر بنســټ د ســوداګریز مارکېټ د جوړېدو طرحې په تړاو د ټاکل شــوې کمېټې راپور وړاندې شو. د راپور لــه مخې یاده طرحه د تایید وړ وبلل شــوه. د دې طرحــې له مخې به دغه ســوداګریز مارکېــټ په څلورو پوړونو کې ۶۹ دوکانونه او همداراز د وســایطو لپاره جلا پارکینګ او شنه ساحه ولري.



همدارنګه د خصوصي سکتور له لوري په کابل ښار کې د کابل ښــاروالۍ پــر ملکیتونو په ۱۸ ســاحو کې د عامه تشــنابونو او په ۱۳ ساحو کې د ســوداګریزو مارکېټونو او عامه تشنابونو د جوړولو په اړه پر وړاندې شوې طرحه هم بحث وشــو. له بحث وروسته ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شــوه، څو د ۱۳ مشخصو شوو ځایونو له جملې د یوشمېر ځایونو په اړه د طرحې له وړاندې کوونکي شرکت سره تخنیکــي او مالي بحثونه تــرسره او پاتې نور ځایونه دې کابل ښــاروالي د ازادې داوطلبۍ له لارې اعلان ته وســپاري. یاده کمېټه دې خپل راپــور په ټاکلي وخت د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي

# په گمرکونو کې د وارداتي تجارتي شرکتونو د ثابتې مالیې د ورکړې طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د کب میاشتې په یوولسمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د مالیې وزارت له لوري د هېواد په گمرکونو کې د وارداتي تجارتي شرکتونو د ثابتې مالیې د ورکړې طرحه د بحث لپاره وړاندې او له ارزونې وروسته د تایید وړ وبلل شوه. د دې طرحې د تطبیق په صورت کې به وارداتي تجارتي شرکتونو ته ډېرې اسانتیاوې رامنځته او بیت‌المال ته به په زیاته اندازه عواید



جمع شي. دې غونډې ته په هېواد کې د بهرنیو تمویلوونکو د نیمگړو پروژو په تړاو د ټاکل شوې کمېټې راپور هم وړاندې شو. د راپور له اورېدو وروسته پرېکړه وشوه، چې د یادو پروژو د هراړخیزې ارزونې او اولویت بندۍ لپاره دې ټاکل شوې کمېټه کار وکړي او خپل راپور دې په ټاکلي وخت د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې ته وړاندې کړي. د کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت له لوري د ځمکو او اراضۍ د تثبیت او د سیستم عصري کولو په تړاو پر وړاندې شوې طرحه هم بحث وشو. له بحث وروسته کرنې وزارت ته سپارښتنه وشوه، چې یاده طرحه د لا غني کېدو په موخه له اړوندو ادارو سره د نظر اخیستو په موخه شریکه او نهایي شوه بڼه یې د تخنیکي کمېټې راتلونکې مجلس ته وړاندې کړي.

همدارنگه د تخنیکي کمېټې له لوري له هېواد څخه بهر ته د المونیم د صادرولو پر موضوع هم بحث وشو. د یادې موضوع د هراړخیزې ارزونې لپاره کمېټه وټاکل شوه او سپارښتنه ورته وشوه، چې خپل راپور په ټاکلې نېټه تخنیکي کمېټې ته وړاندې کړي.

# اخبار اقتصادی هفته

## تطبیق شش شبکه آبرسانی به ارزش ۴۰ میلیون افغانی در غور و هلمند

وزارت احیاء و انکشاف دهات از آغاز و تکمیل کار شش شبکه آب‌رسانی صحی به ارزش ۴۰ میلیون افغانی در مربوطات ولایت‌های غور و هلمند خبر می دهد. این وزارت با ارسال خبرنامه به رسانه‌ها از تطبیق این تعداد پروژه‌های عام‌المنفعه خبر داده است. به گفته وزارت احیاء و انکشاف دهات از این میان سه شبکه آب‌رسانی صحی در مربوطات ولسوالی‌های «فیروزکوه، مرغاب و چهارسده» ولایت غور به بهره برداری سپرده شده و کار سه شبکه دیگر در مربوطات ولسوالی «نهر سراج» ولایت هلمند اغاز شده‌اند.

## بیش از ۳ هزار قیراط زمرد پنجشیر به بازرگانان داخلی به فروش رسید

مقام ولایت پنجشیر می‌گوید که، حافظ محمد آغا حکیم، والی این ولایت، بر ادامهٔ روند استخراج معادن به‌گونهٔ فنی، شفاف و قانون‌مند تأکید دارد و برنامه‌های توسعهٔ ساحات معدنی برای بهار پیش‌رو را تشریح کرد. والی پنجشیر



خاطرنشان ساخت که استخراج زمرد در این ولایت روزبه‌روز بهبود یافته و همزمان تلاش‌ها برای آغاز و گسترش استخراج معادن سرب، آهن، یاقوت و بیروج (فیروزه) نیز ادامه دارد. او تأکید کرد که مدیریت درست منابع طبیعی می‌تواند زمینهٔ رشد اقتصاد خانواده‌ها، اشتغال جوانان و افزایش عواید امارت اسلامی افغانستان را فراهم سازد. به گفتهٔ سخنگوی مقام ولایت، در یک مزایدهٔ رسمی، ۳ هزار و ٦٥٧ قیراط زمرد تازه‌استخراج‌شده به بهای ۵۸ هزار و ۵۰ دالر به تاجران ملی کشور فروخته شد. این مزایده با حضور اعضای کمیتهٔ مؤظف نظارت از معادن برگزار شد. باشندگان و تاجران پنجشیر این موفقیت‌ها را نتیجهٔ تلاش‌های رهبری مقام ولایت دانسته و خواستار تداوم روند استخراج معادن به‌صورت شفاف و معیاری هستند.


ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـــادي او تـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اوونیزه ابادي
هفته‌نامه آبادی

# رشد ۳۳ درصدی انتقالات کالا از طریق خط آهن در افغانستان

وزارت فواید عامه اعلام کرده است که در ۱۱ ماه سال جاری میلادی، انتقالات کالا از طریق خطوط آهن افغانستان نسبت به همین مدت در سال گذشته بیش از ۳۳ درصد افزایش یافته است. محمد اشرف حق‌شناس، سخنگوی



وزارت فواید عامه، گفت: «از آغاز ماه حمل تا پایان ماه دلو سال ۱۴۰۴، بیش از ۵ میلیون متریک تُن کالا از طریق چهار بندر خط آهن انتقال یافته است.» او افزود که این انتقالات شامل کالاهای نفتی، غیرنفتی و سایر مواد بوده و از مسیر بندرهای حیرتان، آقینه، تورغندی و مسیر خواف-هرات انجام شده است. حق‌شناس تأکید کرد که پس از حاکمیت امارت اسلامی، پروژه‌های مهمی برای تقویت و توسعه شبکه خط آهن در کشور آغاز شده که برخی تکمیل شده و برخی دیگر همچنان در جریان است. این دستاورد نشان‌دهند پیشرفت افغانستان در بخش حمل و نقل و توسعه زیربناهای ترانزیتی است و می‌تواند به رشد اقتصادی و افزایش تجارت منطقه‌ای کمک کند.



# د افغانستان د رېل پټلۍ پروژې؛ له سیمه‌ییز اتصاله تر اقتصادي بدلون پورې

زاهد خان

## سریزه

افغانســتان چې وچه کې ایسار هېواد دی، د رېل پټلۍ پراختیـا ته د اقتصـادي بدلون او ســیمه ییز اتصال د اساسي وســیلې په توګه ګوري. په وروستیو کلونو کې د ریـل پټلۍ له لارې د انتقالاتو د پام وړ زیاتوالی ښـیي چې دا ســکتور ورځ تر بلې مهم کېږي. د ټرانسپورټ او هوایـي چلند وزارت د معلوماتو له مخې، د ۱۴۰۴ کال د ورې لــه پیله د ســلواغې تر پایه پــورې د هېواد د رېل پټلــۍ له څلورو بندرونو څخه تر پنځــه میلیونه ټنه زیات توکي انتقال شــوي، چې د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۳۳ ســلنه زیاتوالی ښیي. دا شــمېرې نه یوازې د اوســني وضعیت انعــکاس دی، بلکــې د راتلونکو لویو پلانونو له پاره هم قوي بنسټ جوړوي.

## د افغانستان رېل پټلۍ فعالې او پلان شوې پروژې

اوس مهال افغانســتان څو فعالې ریــل پټلۍ لري چې له ګاونډیو هېوادونو سره یې نښلوي:

• **حیرتان - مزارشریف کرښــه:** دا کرښــه افغانستان د ازبیکســتان له ریل شــبکې سره نښلــوي او د وارداتو او صادراتو مهم مسیر بلل کېږي.

• **اقینې کرښــه:** د ترکمنســتان له لارې د مرکزي اسیا بازارونو ته لار برابروي.

• **تورغونډۍ - هرات کرښــه:** له ترکمنستان سره وصل ده او لوېدیځ افغانستان ته مهمه ده.

• **هرات – خواف کرښــه:** دا پروژه افغانســتان د ایران له رېل شبکې سره نښلوي او د صادراتو له پاره ارزښتناک مسیر ګڼل کېږي.

دغه فعالې کرښې د هېواد د وارداتو لویه برخه، په ځانګړې ډول نفتي او غیرنفتي توکي لېږدوي او د ســړک له لارې د انتقال پر پرتله ارزانه تمامېږي. سربېره پر دې د افغانستان له لارې د رېل پټلۍ ځینې پلان شوې رېل کرښې هم شته، چې لاندې ورته لنډه اشاره کوو.

## د هرات – کندهار – سپین بولدک دهلېز:

د رېل پټلۍ دا کرښــه له هرات څخه تــر کندهار او بیا تر سپین بولدک پورې غځېږي، چې دا به د ایران او پاکستان له بندرونو سره د افغانستان مستقیم نښلون رامنځته کړي. په ۲۰۲۴ کال کې په اســتانا کې د قزاقستان او افغانستان ترمنځ د همدې دهلېز د جوړولو له پاره یو پروتوکول لاسلیک شو. د قزاقستان د پلاوي مشري د دغه هېواد د صدراعظم مرســتیال سیریک ژمانګارین کوله. د دې هوکړې له مخې به قزاقستان د تورغونډۍ – هرات – کندهار – سپین بولدک کرښې په جوړولو کې برخه واخلي، چې هدف یې د مرکزي

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او تـولنیزو مسایلـو په برخـه کـې
د ریاسـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی



او جنوبي اسیا ترمنځ ترانزیټي اتصال پیاوړی کول دي.

## د افغان - ټرانس ریل ستره پروژه

د راتلونکـو پلانونو تر ټولو مهمه پـروژه د افغان - ټرانس ریـل پټلۍ ده، چې موخه یې د مرکزي اسـیا هېوادونه د افغانسـتان له لارې له جنوبي اسـیا سره نښلول دي. دا پروژه د ازبیکسـتان، پاکستان او افغانستان ترمنځ د درې اړخیـزو همکاریو برخه ده. د دې پـروژې په عملي کېدو سره بـه د مرکزي اسـیا مالونه د پاکسـتان بندرونو ته په چټک او ارزانه ډول ورسېږي. افغانستان به د ترانزیټ له فیسـونو، لوژسـتیکي خدمتونو او نورو اړونده فعالیتونو په کلنې ډول میلیونونه ډالر عواید ترلاسه کړي. همدارنګه به هېواد د سیمې په یوه مهم اقتصادي دهلېز بدل شي.

## د واخان دهلېز

ایران څو ځله اعلان کړی چې غواړي د افغانستان له لارې ځان له چین سره ونښـلوي. د ایران د ریل پټلۍ اجراییوي مشر جبار علي ذاکري موده وړاندې ویلي وو چې هېواد یې پر داسـې طرحې کار کوي چې د هرات له لارې به مزار شریف او له دې ځایه به د بدخشان د واخان دهلېز له لارې له چین سره ونښـلي. که څه هم دا طرحه تر اوسه د بحث تر کچې ده، خو د سیمې هېوادونو لېوالتیا ښیي چې افغانستان کولای شي د ترانزیټ په برخه کې محوري رول خپل کړي.

## د واخان دهلېز

ایران څـو ځله اعلان کړی چې غواړي د افغانسـتان له لارې ځان له چین سره ونښـلوي. د ایـران د ریل پټلۍ اجراییـوي مشر جبار علي ذاکري مـوده وړاندې ویلي وو چې هېواد یې پر داسـې طرحې کار کوي چې د هرات له لارې به مزار شریف او له دې ځایه به د بدخشان د واخان دهلېز له لارې له چین سره ونښـلي. که څه هم دا طرحه تر اوسه د بحث تر کچې ده، خو د سیمې هېوادونو لېوالتیا ښیي چې افغانســتان کولای شي د ترانزیټ په برخه کې محوري رول خپل کړي.

## افغانستان ته د ریل پټلۍ پروژو اقتصادي ګټې

### ۱- د ترانزیټي عوایدو زیاتوالی:

افغانسـتان د جغرافیوي موقعیت له امله د مرکزي اسـیا او جنوبي اسـیا ترمنځ لنډه لار ده. د ریل شبکې پراخېدل به د توکو د لېږد له پاره ارزانه او خوندي مسیر برابر کړي او هېواد ته به د ترانزیټ له درکه میلیونونه ډالر عواید راوړي.

### ۲- د سوداګریزو لګښتونو کمښت:

ریل پټلۍ د سړکونو په پرتله د درنو توکو د انتقال له پاره ارزانه ده. د وارداتـو او صادراتو د لګښـتونو کمښـت به د کورنیو تولیداتو سیالي زیاته کړي.

### ۳- د کاري فرصتونو ایجاد او سیمه‌ییزه وده:

د ریل پټلۍ جوړول او سـاتنه زرګونه مستقیم او غیرمستقیم کاري فرصتونه رامنځته کـوي. همدارنګه، د ریل پټلۍ په مسیر کې د پرتو ولایتونو اقتصادي وده چټکېږي.

### ۴- سیمه‌ییز اتصال او سیاسي وزن:

کله چې افغانســتان د مرکزي اسیا، ایران، پاکستان او چین ترمنځ د ریل دهلېز برخه شي، نو د ســیمه ییزو همکاریو په معادلو کې یې اهمیت لوړېږي او سیاسي ـ اقتصادي موقف یې پیاوړی کېږي.

## پایله

د افغانســتان د ریـل پټلۍ شـبکې پراختیا یـوازې یوه ترانســپورتي پروژه نه ده، بلکې د هېواد د اقتصادي بدلون له پاره اساسي ګام بلل کېږي. د ریل پټلۍ فعالو کرښو لا دمخه د انتقالاتو په زیاتوالي کې خپل اغېز ښـودلی او د ریل پلان شوي دهلېزونه کولای شي افغانستان د اسیا په یوه مهم ترانزیټي څلور لارې بدل کړي. که د ســیمه ییزو همکاریــو، نړیوال ملاتړ او کورني مدیریت ترمنځ همغږي رامنځته شي چې د اسـلامي امارت له لوري په دې برخه کې تر ډېره مؤثرې هڅې شـوې دي، نـو تر ۲۰۳۰ کال پورې افغانســتان کولای شي د ریل پټلۍ پر بنسـټ یو فعال، عایداتي او وصل شوی اقتصاد ولري.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـل په شهزاده سـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۶۴,۲۵ | ؋۶۴,۳۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۱۴ | ؋۲۱۵ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۰,۴۱ | ؋۰,۴۲ |
| ۱ | اروپایي یورو | ؋۷۳,۵۰ | ؋۷۳,۸۰ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۳ | ؋۰,۸۳ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۷۴۶ | ؋۷۴۴ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ؋۸۳,۹۰ | ؋۸۴,۳۰ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۶,۹۰ | ؋۱۶,۹۱ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۷,۴۹ | ؋۱۷,۵۲ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۳۱ | ؋۹,۳۳ |

